د طبیعي پیښو څخه وروسته سرپنا

5 ګروف(مجیب الرحمن، جاوید الله، نیکمل، سمیع الله، محمد، ریحان الله، نورالله، صدام حسین)

د شیخ زاید پوهنتون انجینري پوهنځی مهندیسیی څانګي محصلین

## لنډیز:

سرپناه د هغه خلکو لپاره یوه مهمه پروسه ده چي د طبیعي پیښو څخه وروسته په مالي او ځاني ډول د زیانمیدو سره مخا مخ کیري چي باید د سرپناه جوړونکي او یا ډیزاین کونکي ورته توجو وکړي چي په زیاترو پرمختللو هیوادونو کې د دي په اړه څیرنې شوي دي چي هر یو تري ځانګړي هدف لري او ضرور ده چي په افغانستان کي دا ډول څیرنې تر سره شي، چي نوموړي څیرنه د طبیعي پیښو(زلزله، ځمکي ښویدل، سیلاب، اورغورځیدل، واوري ښویدنه او نور...) څخه وروسته باید اول روغتیا بیا غذا او په اخر کي شلټر(سرپناه) توضیع کیري چي زموږ موضوع په سرپناه باندې راڅرخي او په دې برخه کي په افغانستان کي ډیر کم کار شوی دی چي باید مسؤل اشخاص ورته توجه وکړي.

## میتود:

د معلوماتو په راټولونه کي موږ د لمړی لاس(primary data) کې د مرکي میتود کي د ټیلیفون په واسطه معلومات راټول کړي دي چي د لعمان ولایت یو شخص چي د سرپنا د نظارت انجینر څخه لاسته راوړي دي او په دوهم لاس (Secondary Data) کې د تیاري سروي او ریسرچ څخه چي په کاناډا هیواد کي Sherbrook پوهنتون د انجینري محصلینو Pierre-Olivier Babin, Roch Hurtubise, Carolyne Grimard لخوا تر سره شوی دی معلومات اخیستل شوي.

کلیدي کلیمې: طبیعي پیښې، زیانونه، غوښتنه، سرپناه، خوست.

## پېژندګلوي:

د هر څه وړاندي لومړی زیاتي خاطرناکي پیښي پیژنو.

زیاتي خطرناکې پېښې لکه: د ځمکې ښوویدنه (Landslide)، بېرېښنا او غرزنې د ورېځو د نښتو په اثر پیده کیږي (Lightning)، تالندې وځلی ځنګلي اور(Wildland fire)، شدید باد یا توپان (Hurricanes)، سیلابونه (Floods)، تالنده یا بریښنا (Thunderstorm)، د دریاب پورته کیدونکي څپې (Tsunami)، تاویدونکی توپاني دوړ یا باد (Tornado)، اور غورځونکي غرونه (Volcanoes)، زلزله (Earthquakes) او داسي نور...

کله چي پورتني ډول کومه پیښه رامنځته کیري نو سرپناوي ور ته په نظر کي نیول کیري.

سرپناه(Shelter): هغه اوسیدو ځای ته ویل کیري چي د خلکو لپاره خوندي او سالم ژوند چاپیریال چمتو کوي او دخلکو ملکیت خوندیتوب، امنیت، د کورنی یوالي ساتلو یا بیا رغولو کي مرسته کوي او یا په بل ډول شلټر هغه ودانی دي چي د طبیعي پیښو له امله د زیانمن شوو خلکو د لنډ یا اوږد مهاله اوسیدني لپاره جوړیري.

د سرپناه (Shelter) ډولونه: سرپناه په عموم کي په دري ډول ده.

1. Emergency shelter (Tent): بیرنی سرپناه (خیمه).

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

2. Temporary Shelter: لنډمهاله سرپناه.

3. Permanent Shelter: دایمي سرپناه.

**Emergency shelter (Tent) (بیړني سرپناه):**

دا هغه سرپناه خوني دي چې په چټک ډول د هغه چا لپاره ترتیب کیږي چې په مکمل ډول تخریب شوي وي.یا په بل ډول د هغه ویجاړو شوو خلکو لپاره جوړیږي چه په هغه شیه د خوب لپاره خوندي ځایې نه لري، دا د یو لنډ وخت لپاره جوړیږي تر څو چې ورته دایمي هستوګنځی جوړ شي.

Temporary Shelter (لنډمهاله سرپناه):

دا هغه سرپناوي دي چې په عین وخت کې د ویجاړو شوو خلکو لپاره لږ تر لږه د ښه ژوند برابرولو لپاره جوړیږي، یا هغه سرپناه څخه عبارت دی چې ویجاړ شوي خلک ور څخه تر یو یا دوه کاله ګټه اخیستلی شي او وروسته یې ویجاړاوي.

نوټ: دا سرپناه یو معیاري ډیزاین ته اړتیا لري.

**Transitional Shelter (انتقالي سرپناه):**

هغه سرپنا د چې د یوځای څخه بل ځاي ته د انتقالیدو وړ وي.

- ❖One Room transitional shelter durable solution with corridor brief
- ❖ (Area 5.5m x3.5m =19.25 Sq.)(Corridor area 2x3.5m =7 Sq.)
- ❖Two Rooms transitional shelter durable solution with corridor brief
- ❖ (Area 3m x4mx2room =24 Sq.m) (corridor area 2x3.5m =7 Sq.m)

- دا چې دا دري ځیزونه یو له بل سره تړلي دي: نفوس زیاتوالی، د خلکو او تکنالوژي پرمختګ او وضعیت سره تړلي ستونزي مطلب دا چې کله کومه پیښه تر سره کیږي نو دا ستونزي د کمولو لپاره روغتیا یي خدامات، خواړه او تکنالوژي مواد(سرپناه) ورته په نظر کې ونیول شي تر څو مو د نفوس چې د دوی زیاته برخه په دې پیښو کې قرباني کیږي ساتلي وي. په نړی کې د سرپنا یو له مهمو موضوعاتو څخه ده چې په نړی کې زیاته توجه ورته شوی ده نو مونږ هڅه وکړه چې د افغانسان کې هم په دې موضوع باندي ریسرچ ترسره کړو دا چې په ځینو سیمو کې پورتنی پیښی په بار بار تر سره کیږي دا توصیه کیږي تر څو خلک د مړینو او اغیزمنتوب نه ساتل شوی او د لاري پر سر د اوسیدو پر ځای په یو خوندي او مسؤون ځای کې خپل ژوند ته دوام ورکړي او خپل ټولنیز ژوند ته یې زیان نه وي رسیدلی نو ورته سرپناه توضیح کیږي او باید د سرپناه د توضیع وصول هم په ساحه کې عملي شي تر څو د خلکو ترمنځ د جنګ او ستونزو لامل نشي ځکه په ځینو سیمو کې د اخوالو شاهد یو او بله یوه ستونزه چې د سرپناه وو په توضیع کې باید په نظر کې ونیول شي هغه دا چې افغانستان یو له مسلمانو هیوادونو له جملې څخه ده نو ستر او خجاب (محرمیت) له یو مهمو برخو څخه شمیرل کیږي چې باید په نظر کې ونیول شي.
- بل کاناډا یې عالم (سمرډ په 2005) کال کې ویلي چې په یه لویه سرپناه کې د اوسیدو اوسط ډول 355 ورځې وي، په یو خالت کې 20 کاله، 60 بستریزه سرپناه د هغه خلکو لپاره کارول کیږي چې د استوګنې موده یې 3 میاشتې وي او 30 بستریزه سرپناه د یو کال څخه زیات دوام کوي. نو

ketabton.com - The Digital Library

ویلی شو چې سرپناه د هغه چا لپاره جوړیږي چې د اوسیدو لپاره ځای ونه لري چې تر ټولو غوره د اوسیدونکو لپاره دایمي سرپناه وي دي او تر ټولو کم يې بیړنی سرپناه دي چې په نظر کې نیول کیږي.
همدا ډول د نړی ځیني هیوادونه لکه پاریس په 2006 م کال کې د اقتصادي بخرانونو له وجې خلکو دا غوره ګڼلې ده چې په سرپناه وو کې ژوند وکړي او ورځ تر بلې ضرورت په زیاتیدو دی او زیات شمیر خلک بې کوره کیږي.

## د مطالعې ځای:

موږ چې کومه څیړنه تر سره کړې ده دا د خوست ولایت دی چې د افغانستان په جنوب ختیځ کې موقعیت لري دا چې د طبیعي پیښې په نوموړي ساخه کې په مختلفو وختونو کې تر سره کیږي چې د هغې لپاره سرپناه باید په نظر کې ونیول شي دا یوه ستونزه ده چې باید د هر شخص دې برخې ته توجو وکړي یو خو به خلک خوشال او ژعورل شوی وي او بل مو به یو الهی مسؤولیت اجرأ کړی وي نو ضرور ده چې کله په نوموړي ساخه یا په نورو ساخاتو کې کومه پیښه واقع کیږي او خلک بې کوره کیږي نو ضرور ده چې د هغوي لپاره سرپناه په نظر کې ونیول شي.

## اهداف:

دا چې کله په افغانستان کې په خاص ډول خوست کې پیښې تر سره شي نو باید د نورې نړی په شان ورته سرپناه وي توضیع شي نو په نړی کې سرپناوي د لاندې اهدافو لپاره کاروي چې په دې لیست کې افغانستان هم شامل دی همدا ډول سرپناه وي د مختلفو موخو لپاره کاریږي چې ډیری سرپناه وي د غوښتونکو په غوښتنه جوړیږي چې دا غوره دي کورنی او فامیل ته په لیدو جوړیږي چې د 5 نفري فامیل لپاره دوه کوټې یو کموډ او کوچنی دهلیز په نظر کې نیول کیږي.

د دې لپاره چې  په خوست کې دا ستونزه خل شوي وي او د خلکو روغتیایي خالت، امن، سوکاله ژوند، او د نورو هدفونو لپاره ورته شلټر (سرپناه) ځایونه په نظر کې و نیول شي.ظ

کله چې یوه ساخه د طبیعي پیښو سره مخ کیږي او خلک بې کوره کیږي نو د سرپناه نه ګټه اخیستل کیږې تر څو د قربانیانو د نور ضرري شیانو نه په امن وي او په سوکالی خپل ژوند ته دوام ورکړي.

په نړی کې سرپناه ځایونو نه د روعتیایي خدمتونو مرکز په شان ګټه اخیستل کیږي سرپناه او بیړنی خونې هغه ساخې ته انتقالوي چې روغتیایي ځای لپاره جدي ضرورت وي لکه Covid-19 او نورو امراضو لپاره د سرپناه نه ګټې واخیستل شوي ځکه خلک ډیر وو روغتونو کې نه ځایدل.

په پاریس کې د نفوس زیاتوالي په وجه هم ورته سرپناه په نظر کې نیول کیږي.

همدا ډول ځیني سرپناوي د کور دننه د روزنیزو مرکزونو، روزنیزو ورکشاپونو او همدا ډول د نورو ضروریاتو په خاطر هم سرپناه وي جوړیږي...

## تخلیل:

## سپارښتنې:

ketabton.com - The Digital Library

دا چې د طبيعي پېښو د لمنځه وړلو يا زيان کمولو لپاره بايد هڅه وشي چې لاندې سپارښتنې او تدابير په نظر کې ونيول شي:

1. د پيښې څخه مخکې تدابيراو سپارښتنې.
2. د پيښې پر وخت تدابير او سپارښتنې.
3. د پيښې څخه وروسته تدابير او سپارښتنې.

## 1. د پيښې څخه مخکې تدابير او سپارښتنې:

دا تدابير د پيښې په تکرار پورې اړه لري چې په ورځ، مياشت او په کال کې يو ځل واقع کيږي يا نه.

1. د منابعو نه ښه ګټه اخيستل، د کارمندانو شمير ټاکل، مواد او خداماتو چمتو کول.
2. د خبرتيا سيستم برابرول.
3. ځيني ډير زيانمونکې ساخې تقويه کول.
4. منابعو ذخيره کول.
5. منابع خوندي کول.
6. د ساينسي او عملي زده کړو لکه تمرينونو له لارې د خلکو عملي او علمي پوهاوی لوړول.
7. دولتي او غير دولتي خلک په دندو ګمارل.
8. مخکيني تفصيلاتي پلان جوړول، خداماتو وړاندي کول او وړاندوينه کول.
9. د خلکو د تأسيساتو څخه د وتلو پلانونه برابرول.
10. د خطر لپاره د ځانګړو اشخاصو يا ډلو روزل لکه اطفايي خدامات.
11. طرزالعملونو او معيارونو برابرول.
12. قوانين او وصول عملي کول.
13. د تلفاتو اټکل، احتمالي زيانونو اندازه او د اړتيا وړ بوديجې تحصيص يا ځانګړې کول.
14. د خطرونو په کمولو کې تر ډيره کوشش وشي.

## 2. د پيښې پر وخت تدابير او سپارښتنې:

د پيښې د واقع کيدو موده کيدای شي د څو ثانيو نه تر څو ورځو پورې وي نو له همدې امله ورته لاندې تدابير بايد ونيول شي.

1. ويستل.
2. د ژوبلو او بې وزلو خلکو ژغورنه.
3. د ټپيانو لپاره لمړنی طبي مرستې.
4. د جسدونو موندل او دفن کول.
5. د لنډ مهاله استوګنځي برابرول.
6. اکمالات لکه خوراک، درملو او جامو اړتيا.

## 3. د پيښې څخه وروسته تدابير او سپارښتنې:

1. ژغورنې ته دوام ورکول.
2. پاتې خلکو پيژندل او په خاص ډول د ماشومانو تغذيه.
3. د خبرتيا سيستم بيا راغول.

ketabton.com - The Digital Library

4. د چاپېریال او روغتیایي تدابیرو څارنه او کنټرول ( د پاکو اوبو برابرول، سرپناه، صحي خواړه، لمړنیروعتیایي خدمتونه، د چاپېریال کنټرول او داسې نورو خدمتونو وړاندې کول...)
5. راپور چک کول، د زیانونو او تلفاتو ارزونه او دا معلومات د مسؤولو اشخاصو ته واندي کول.
6. سمدستي د اړینو منابعو او تجهیزاتو چمتو کول.
7. د قربانیانو ذهني خالت ډاډمن کول تر څو بیرنی مرستي ومني.
8. د بې کوره خلکو لپاره د سرپناه برابرول.
9. په کافي اندازه د درملو او جراثیمو ضد مایعاتو رسول او وشل.
10. د روعتیایي وضعیت چټکه ارزونه .
11. فلم برداري او د پیښي څیرنه کول.

## پایله او مباحثه:

دا څیرنه په خوست ولایت کې تر سره شوې ده چې د استاد د غوښتني مطابق د سرپناه ګانو تر غنوان لاندې ده د څیرني پایلي ښايي چې زموږ په ولایت کې د سرپناه اړوند موضوع ته خاصه یا ځانګړې توجه نکیږي که وګورو د طبیعي پیښو په واسطه د مختلفو ساخو کې د مختلفې طبعي پیښو لکه: زلزله چې په سپیره کې تر سره شوې وه چې وروسته یې په تفصیل سره څیرو، همدا ډول سیلابونه چې دې ولایت په ګوټ ګوټ کې خلکو ته ځاني او مالي زیانونه رسوي مؤسسات او دولت ورته ځاصه توجه نده کړې، او مختلفو خلکو یکې خپل کورونه لمنځه تللي او یا ځي.

د پیښو څخه وروسته دا اړینه ده چې د خلکو لپاره لنډمهاله سرپناه چمتو شي لنډمهاله سرپناه وو کې د 2-10 ورځو پوري پاتې کیدلی شي. دا چې کله پیښه واقع کیږي لمړی د ټپیانو درملنه، کورنی راټولول او بیا ورته سرپناه توضع کیږي چې د سرپناه وو لپاره لاندي وصول په نظر کې نیول کیږي:

1. سرپناه باید د مچیو، چټلو ځایونو، کثافاتو او ډنډونو نه لیرې وي.
2. د ځمکې مناسب میلان چې اوبه یې باید وزي په نظر کې نیول کیږي.
3. د نامناسبو اقلیمي شرایطو نه خوندي وي.
4. صنعتي ودانیو، سوداګریزو مرکزونو او هغه ساخو نه لیري په نظر کې ونیول شي چې شور، بوی، ترافیکي رش او کاکړتیاوو نه برخمنې وي.
5. د هر شخص لپاره باید کافي ځای ولري چې په سرپناه وو کې د یو نفر لپاره 3-4 متره مربع نیول کیږي.
6. سرپناه باید د ښتلو اوبو سره نږدې باید جوړ شي.
7. سرپناه باید د سرک دواړه خواوي ته ځای پر ځای شي چې د سړک عرض لږ تر لږه 10 متره او دسرپناه وو پیکونه لږ تر لږه 2 متره باید پرېښودل شي.
8. د سرپنا په مینځ کې د هر نفر ته لږ تر لږه 3 متره مربع ساخه په نظر کې نیول کیږي.
9. د سرپناه تر منځ لږ تر لږه باید 8 متره فاصله وي.
10. کوچنی سرپناه ځایونه د لویو په نسبت غوره دي تر څو کم خلک یکي پر ځای شي.
11. دې لپاره چې ساړه خلک متضرره نه کړي نو د تودوخې لپاره باید سیستم په نظر کې ونیول شي.
12. د روښنایي لپاره باید تدابیر ونیول شي.

ketabton.com - The Digital Library


13. په 100 متر فاصله باید د سړک دواړه خواوو ته 200 لیتره ټانکی په نظر کې ونیول شي.
14. تشنابونه او کموډونه د سرپناه وو څخه باید په مناسبه فاصله نصب شي.
15. د تشنابونو او کموډنو ته باید مناسب لوری په نظر کې ونیول شي.
16. میځلو ځایونه ورته برابر شي.
17. د سرپناه وو یا خیمو شاه وخوا باید وکیندل شي تر څو سرپناه او اوسیونکو ته زیان ونه رسوي.
18. په عموم کې سرپناه ځایونه په دوه برخو باندې ویشل کیږي چې یو استوګنیزه ساخه ده او بل د اجتماعي خداماتو(روغتونونه، مسجدونه، مکتبونه، تفریخي ځایونه او نور...) ساخه ده
19. د ساري ناروغی لپاره باید جدا جدا سرپناه وي جوړي شي.
20. د مختلفو نورو اسانتیاوو برابرول چې په د سرپناه لپاره ضرور دي باید په نظر کې ونیول شي...

د خلکو عامه پوهاوی ضرور ده تر څو د معزورو او د قربانیانو لاس نوی شوي وي او خدایي مسولیت مو اجرا کړی وي

په خوست او پکتیکا په 22/جون/2022 د 5.9 درجې زلرلي چې د خوست او پکتیکا په ځینو ولسوالیو(خوست کې سپیره، شمل، تنیو، مندوزي او ندرشاه کوټ ته او په پکتیکا کې ګیان، زیروک، برمل، نیکه، اورګون او سروبي پوري ) شدید زیانونه رسولي چې ټوټل 361634 تنه زانمن شوي، 1036 تنه وژل شوي، 3669 تنه ټپیان او 4500 کورونه په مکمل ډول له منځه تللي دي Map 1 شکل کې د زلزلي په واسطه زانمني شوي ساخې لیدلی شی، Table 1 جدول کې د روغتیایي مرکزونو لخوا د تلفاتو شمیر ښایي، Table 2 جدول کې د هغه سیمې چې د مختلفو مؤسساتو لخوا ورته خدامات وړاندي شوي دي.س


| Province | Health Facility | Total OPD Cases | Total IPD Cases | # of Orthopedic Cases (out of IPD) | # of other Surgical Cases (out of IPD) | Total Treated and Discharged (earthquake) | Total Deaths (by earthquake) | Total Referred Cases |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **Paktika** | Paktika (Sharan) PH | 83 | 45 | 16 | 29 | 123 | 0 | **15** |
| | Urgun DH | 104 | 30 | 21 | 9 | 124 | 0 | **31** |
| | Kairkot DH | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | Giyan CHC | 2237 | 0 | 0 | 0 | 1992 | 245 | **216** |
| | Barmal CHC | 1103 | 0 | 0 | 0 | 953 | 150 | **11** |
| **Khost** | Khost PH (refer in) | 13 | 5 | 4 | 1 | 15 | 0 | **0** |
| **Ghazni** | Ghazni PH (refer in) | 2 | 3 | 2 | 1 | 5 | 0 | **0** |
| **Paktya** | Gardez RH (refer in) | 24 | 20 | 13 | 7 | 44 | 0 | **3** |
| **Total** | | **3,566** | **103** | **56** | **47** | **3,256** | **395** | **276** |
| **Overall Hospital Cases** | | **3,669** | | | | | | |

Table 1: Number of casualties by healthcare facilities between 22 and 27 June 2022




Map 1: The earthquake affected area and health facilities

ketabton.com - The Digital Library




| Province | District | Type of HFs | HC Partner |
|---|---|---|---|
| **Paktika** | Giyan | 3 Mobile Health Team (MHT) | WHO/HMLO |
| | | 3 First Aid Trauma Post (FATPs) | IMC (Giyan, Dila and Yahya Khel) |
| | | Giyan CHC | UNICEF thru. OHPM |
| | | 2 MHTs | IOM |
| | | Health camp | WHO/UNICEF/OPHM/MSF/AIM and ARCS |
| | Barmal | Barmal CHC | UNICEF thru. OHPM |
| | | Basic Healthcare Center (BHC) | EMERGENCY NGO |
| | | 2 MHTs | WHO/HMLO |
| | | Health camp | WHO/UNICEF/OPHM/MSF/AIM and ARCS |
| | Ziruk | Ziruk BHC | UNICEF thru. OHPM |
| | Nika | Nika BHC | UNICEF thru. OHPM |
| **Khost** | Spera | Spera CHC, and 2 MHTs | UNICEF thru. HN-TPO |
| | Qala kalay | Qala kalay BHC | UNICEF thru. HN-TPO |

Table 2: PHC facilities provide trauma care operated by HC partners

## مأخذونه:


1. Britannica Encyclopaedia: www.britannica.com
2. Disaster Response – Principles Of Preparation And Coordination Chapter 1 – The Problem http://216.202.128.19/dr/flash.htm
3. Disaster Response – Principles Of Preparation And Coordination
4. Chapter 4 – Disaster Are Different http://216.202.128.19/dr/flash.htm
5. NCR: NORWEGIAN REFUGEE COUNCIL. Shelter Technical Session. Shelter and Settlement Department.
6. Frequent Utilizers of Services in Allegheny County: Emergency Shelter Facilities. FREQUENT UTILIZERS OF SERVICES IN ALLEGHENY COUNTY. Emergency Shelter Facilities.
7. Retrieved from https://en.wikipedia.org/w/index.php?title=Transitional_shelter&oldid=1174484516
8. Global Shelter Cluster. Coordinating Humanitarian Shelter. SHELTER PROJECTS. ShelterCluster.org. 9th edition
9. Afghanistan - Earthquake – Situation Report No. 7 (As of 28 June 2022). For more information, please visit: • https://www.facebook.com/WHOAfghanistan https://twitter.com/WHOAfghanistan
10. CAMP MANAGEMENT TOOLKIT. William Swing, Director General IOM, Jan Egeland, Secretary General NRC, António Guterres, UN High Commissioner for Refugees.S
11. اقدامات بهداشتی در شرایط اضطراری (Health Action in Emergencies). تهیه و تنظیم مهندس حسین فرخ زاده.S

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*